# Match'In

Pilotprojekt zur Verteilung von Schutzsuchenden mit Hilfe eines algorithmengestützten Matching-Verfahrens

Friedrich-Alexander-Universität Erlangen-Nürnberg

Stiftung Universität Hildesheim 2003

gefördert von STIFTUNG MERCATOR

د هیلدسهایم، فریدریش الکساندر او د ایرلانګین-نورمبرګ پوهنتونونو او د لاندې ادارو تر مینځ د همکاریو ګډه پروژه:

- د هیسن د ټولنیزو چارو او ادغام وزارت
- د نیدرزاکسن د کورنیو او ورزشي چارو وزارت
- د راینلند-فالتز د کورنۍ، ښځو، فرهنګ او ادغام وزارت
- د نوردراین-ویستفالن د ماشومانو، ځوانانو، کورنۍ، برابرۍ، کډوالو او ادغام وزارت

دا پروژه د مرکاتور بنسټ لخوا تمویلیږي. د پروژې موده: ۲۰۲۱/۰۵/۰۱ تر ۲۰۲۴/۰۴/۳۰

دا سند یوازې د داخلي کاروني لپاره دی او مسوده ده. مهرباني وکړی محرمیت یې په پام کې ونیسئ.

پناه غوښتنکو د منل کیدلو د لمړني مکان (EAE/ZUE) پوښتنلیک

Stand: 05.04.2023

فهرست


د نه شمولیت (ګډون) دلایل ........ 3
د نه شاملیدو احتمالي دلیلونه ........ 4
کاري ځای یا حرفوي زده کړې ........ 6
د سمون لاملونه ........ 7
د ژبې مهارتونه، د لوستلو او لیکلو وړتیا ........ 9
د استوګني وضعیت ........ 11
دنده/کار ........ 12
تحصیلات او زدکړې ........ 14
د فراغت وخت، سپورت او کلتور ........ 15
د LGBTIQ* ټولنه او ملاتړ ........ 17
روغتیا ........ 18
وزن ........ 20

**د نه شمولیت (ګډون) دلایل**
**تولنیز وضعیت**

آلمان ته د رسیدلو څخه وروسته، تاسو کولی شی د خپل خاوند یا هغه چا سره یوځای ژوند وکړی چې ستاسو د ژوند ملګري په توګه لیست شوي یا راجستر شوی وي.

1) آیا تاسو اوسمهال دلته د خپل خاوند یا میرمنې سره یاست او غواړی له هغه یا هغې سره یوځای استوګن شی؟
- هو
- نه (زه یوازې ژوند کوم)

که تاسو هو وټاکی، تاسو نشې کولی اوسمهال د سمون یا مطابقت پروګرام کې ګډون وکړی. ستاسو سروې یا پوښتنلیک همدلته پای ته رسیږي. تاسو به د عادي پروسې له لارې د خپلې کورنی سره ځای په ځای کیږی. تاسو اړتیا نلری نورو پوښتنو ته ځواب ورکړی. که تاسو "نه" وټاکی نو بیا دوهمې پوښتنې ته لاړ شی.

نو تاسو واده نه دی کړی. پس ممکن تاسو وکولی شی د انتقال څخه وروسته د خپل خاوند، میرمن یا د ژوند ملګري سره یوځای ژوند وکړی.

2) آیا تاسو د ژوند ملګری لری چې تاسو سره اوسمهال یوځای ژوند کوي؟ آیا تاسو غواړی د هغه یا هغې سره له انتقال وروسته یوځای استوګن شی؟
- هو
- نه

که تاسو "هو" وټاکی، نو تاسو اړتیا نلری چې د سمون پروګرام کې ګډون وکړی. پوښتنلیک همدلته پای ته رسیږي. هیڅ تضمین شتون نلري چې تاسو به وکولی شی په یو مکان کې ځاي په ځای شی. خو موږ به دا معلومات له اړوندو چارواکو سره شریک کړو. له همدې کبله، موږ وړاندیز کوو چې د سمون طرزالعمل دلته پای ته ورسیږي ځکه چې تاسو د ګډ ځای لږ فرصت لری.
که چیرې تاسو «نه» انتخاب کړی وي، مهرباني وکړی دریمی پوښتنې ته مراجعه وکړي.

تاسو کولی شی خپلو ماشومانو سره په ګډه ځای په ځای شی. ستاسو ماشومان باید د 18 کلونو څخه کم عمر ولري.

3) آیا تاسو یو یا څو ماشومان لری چې له تاسو سره ګډ آلمان ته مهاجر شوي وي؟ او آیا تاسو غواړی د دوی سره له انتقال وروسته یوځای استوګن شی؟
- هو

- نه

که تاسو "هو" انتخاب کړی، اوسمهال د سمون پروګرام کې برخه نشی اخیستلی. ستاسو سروې دلته پای ته رسیږي. تاسو به د عادي پروسې له لارې د خپلې کورنۍ سره ځای په ځای شی. که تاسو "نه" انتخاب کړی وي، نو څلورمی پوښتنې ته لاړ شی.

تاسو کولی شی په آلمان کې د کورنۍ نږدې غړو سره یوځای ژوند وکړی. په دې کې خاوند یا میرمن او د 18 کلونو څخه کم عمر لرونکي ماشومان هم شاملیږي.

4) آیا تاسو میرمن او د 18 کلونو څخه کم عمره ماشومان لری او آیا دوی په بل ځای کې ژوند کوي؟

- هو
- نه

که تاسو "هو" انتخاب کړی، تاسو په دې وخت کې د سمون پروګرام کې ګډون نشی کولی. موږ چارواکو ته وایو چې ستاسو کورنۍ په دې ځای کې ژوند کوي. نو شاید تاسو هلته استوګن شی. ستاسو سروې همدلته پای ته رسیږي.
که تاسو "نه" انتخاب کړي وي، شپږمې پوښتنې ته لاړ شی.

نو تاسو واده ندی کړی او په آلمان کې د 18 څخه کم عمره ماشومان نلری. شاید تاسو وکولی شی چې د خپل ملګري سره استوګن شی.

5) آیا تاسو د ژوند ملګری لری چې په آلمان کې ژوند کوي؟ او آیا تاسو غواړې چې د دغه کس ځای ته لاړ شي؟

- هو
- نه

که تاسو "هو" انتخاب کړی، تاسو په دې وخت کې د سمون پروګرام کې برخه نشی اخیستلی. موږ چارواکو ته وایو چې ستاسو د ژوند ملګری په دغه ځای کې ژوند کوي. نو شاید تاسو هلته استوګن شی خو موږ د دغه کار د سرته کېدلو ژمنه نشو کولی. ستاسو سروې همدلته پای ته رسیږي.
که تاسو "نه" غوره کړی، 6 پوښتنې ته لاړ شی.

**د نه شاملیدو احتمالي دلیلونه**
**ټولنیز پیوندونه**

اوس تاسو کولی شی د کورنۍ د نورو غړو نومونه واخلی. دا د کورنۍ هغه غړي دي چې تر اوسه یې نوم نه دی اخیستل شوی. تاسو کولی شی د هغه ملګرو او دوستانو نومونه واخلی چې په خوا آلمان ته راغلی او دلته اوسیږي.

موږ یوازې هغه ځایونه په پام کې نیولی شو چې زموږ په پروژه کې برخه اخلي. دا دغه ځایونه دي (...)[1]
که چیرې نومول شوی شخص یا اشخاص هلته ژوند نه کوي، تاسو نشی کولی هلته استوګن شی. که تاسو غواړی چې د دغه کس یا افرادو سره یو ځای ژوند وکړی، تاسو نشی کولی د سمون پروګرام کې برخه واخلی.
که دا شخص اوس مهال په (...)[2] کې نشته، تاسو نشی کولی له دغه کس سره ژوند وکړی. مهرباني وکړی پوښتنلیک ته دوام ورکړی.

6) آیا تاسو په (...)[3] کې د کورنی غړي، ملګري یا نور آشنایان لری؟ او آیا تاسو غواړی چې دوی ته نږدې ژوند وکړی؟

- هو
- نه

که تاسو "هو" غوره کړی:

7) دا کسان اوسمهال چیرته ژوند کوي؟ تاسو یوازې د هغه چا ځای نومولی شی چې ستاسو لپاره مهم دی.

که تاسو په 6 پوښتنه کې "هو" انتخاب کړی وي او غواړی چې یاد کس ته نږدې ژوند وکړی، تاسو کولی شی دا په 8 پوښتنه کې نښه کړی. پس سروې اوسمهال پای ته رسیږي. موږ چاړواکو ته وایو چې دا کس په دې ځای کې اوسیږي او تاسو هم هلته اوسېدل غواړی. په هرصورت، هیڅ تضمین شتون نلري چې تاسو به هلته استوګن شی او یو ځای ژوند وکړی.
که تاسو په 6 پوښتنه کې "هو" انتخاب کړی، مګر تاسو اړتیا نه لری چې دې کس ته نږدې ژوند وکړی، تاسو کولی شی سمدلاسه دا انتخاب کړی او ورسته دغه پوښتنلیک کې نورو ټولو پوښتنو ته ځواب ووایاست. د سمون برنامه به هر هغه څه ته پاملرنه وکړي چې تاسو یې دلته ذکر کوی. تاسو کولی شی دا د تګ لپاره بل ځای هم وکاروی. کوم ځای ته چې تاسو ممکن لاړ (استوګن) شی، چې د نورو دلایلو له کبله شاید غوره او مناسب وي.
دا د یادولو وړ ده چې تاسو نشی کولی وروسته بل ډول پریکړه وکړی.

8) ستاسو لپاره دا څومره مهم دی چې خپلوان، ملګری یا ښځینه ملګري ته لنډ ژوند وکړی (6پوښتنه)؟

- دا کس زما لپاره دومره مهم دی چې نور څه ته باید پاملرنه ونشي. زه پریکړه کوم چې د سمون پروګرام ترسره نکړم او غواړم هغه ځای کې ژوند وکړم چې دا کس ژوند کوي.
- دا کس باید د سمون په پروګرام کې شامل شي. مګر باید یوازې پریکړه ونه شي چې زه چیرته استوګن شم. زه هم غواړم لاندې پوښتنو ته ځواب ووایم او هغه ځای ته لاړ شم چې زما لپاره مناسب دی. دا کیدای شي د دغه شخص استوګنځی نه وي.

1 د اړوند ایالت لپاره اضافه شي
2 ایالت اضافه کړئ
3 ایالت اضافه کړئ

**کاري ځای یا حرفوي زده کړې**

| |
|---|
| که تاسو مخ کې له مخ کې کاري قرارداد او یا هم د کارزدکولو امضا شوی سند لری، دا ستاسو لپاره مهم ګڼل کیدی شي. د سمون پرګرام کې له بده مرغه یوازی تعیین شوي ځایونه په نظر کې نیول کیږي. دا ځایونه دغه دي: (...)[4] آیا تاسو غواړی چې ستاسو کار یا تعلیم ته پام وشي، مګر دا په شامل شویو ځایونو کې نشته؟ که داسې وي، تاسو نشی کولی اوسمهال د سمون پروګرام کې ګډون وکړی. |
| |

9) آیا تاسو کار یا مسلکی زده کړه (اوزبیلدونک) کوی او یا تاسو د کار یا مسلکي زدکړې قرارداد لری؟ آیا تاسو غواړی دا ستاسو استوګنځي لپاره په پام کی ونیول شي؟

- هو (کار یا د مسلکي زدکړې امضا شوی قرارداد)
- نه (نشته یا باید په پام کې ونه نیول شي)

که تاسو "هو" غوره کړی:

10) دا د کار ځای دقیقا چیرته دی؟

| |
|---|
| |

| |
|---|
| که تاسو د 9 پوښتني لپاره "هو" ټاکی خو لزوما نه غواړی خپل د کار ځای ته لاړ شی، تاسو کولی شی هغه اوس هم دلته انتخاب کړی. تاسو کولی شی په دې پوښتنلیک کې ټولې پوښتني په نښه کړی او هر څه به د سمون په پروګرام کې په پام کې ونیول شي. په دې حالت کې، تاسو ممکن هغه ځای ته ونه لیږدول شی چیرې چې ستاسو دنده ده. ستاسو د کار ځای به بیا هم د سمون په پرګرام کې په نظر کې ونیول شي. کوم ځای ته چې غواړې تاسو لاړ شی د نورو اطلاعاتو په نظر کې نیولو سره، هڅه کیږي چې تاسو لپاره مناسب وي. اما د کار یا زده کړې ځای ستاسو لپاره دومره مهم دی چې تاسو غواړی حتما یاد ځای ته لاړ شی؟ نو د سمون پروګرام په دې وخت کې همدلته پای ته رسیږي او د استوګنځي موضوع مسؤول چارواکو ته لیږل کیږي. د یادونې وړ ده چې موږ دا ژمنه نشو کولی چې چارواکي به تاسو هرو مرو هغه ځای ته چې ستاسو په نظر کې دی د ځای په ځای کیدلو اجازه درکړي. تاسو نشی کولی وروسته بل ډول پریکړه وکړی. |

11) ستاسو د کار یا زده کړې ځای (9 پوښتنه) څومره ستاسو د تصمیم لپاره چې چیرته باید ژوند وکړی مهم دی؟

۴ ایالت دی اضافه شی

- زما لپاره د کار ځای تر بل هر څه ډیر مهم دی. زه غواړم همدا اوس د سمون پرګرام پای ته ورسوم. چیرته چې د کار ځای موقعیت لري مسؤلو چارواکو ته خبر ورکول کیږي حتی که د ځای په ځای کیدلو امکان هم کم وي.
- د کار ځای باید د سمون په پروسه کې یو عامل وګڼل شي، مګر دا باید یوازې تعینونکی نه وي. زه غواړم چې نورو پوښتنو ته ځواب ورکړم او هغه ځای ته لاړ شم چې زما لپاره له هر اړخه مناسب وي. دا ممکن هغه ځای وي چیرته چې زما د کار مکان ندی.

د سمون لاملونه

| |
|---|
| مهرباني وکړی ټولو پوښتنو ته پاملرنه وکړئ:<br>ستاسو ځوابونه دا نه ټاکي چې تاسو ضرور او یا هم په ګړندي توګه ځای په ځای کیږي. موږ یواځې هڅه کوو چې ستاسو لپاره مناسب استوګنځی پیدا کړو. |

**ټولنیز پیوندونه**

12) آیا تاسو غواړی چې د انتقال په وخت کې ستاسو مذهب په پام کې ونیول شي؟

- هو
- نه

که تاسو "هو" انتخاب کړی:

13) تاسو په کوم دین پوري تړاو لری؟

**اسلام**

- احمدي
- علوي
- شیعه
- سني
- نور:

**مسیحیت**

- ارتدکس
- پروتستان یا ایوانګیلیش
- کاتولیک
- او نور

- ایزدی
- هندوییسم

- بوديسم
- يهوديت
- نور:

14) آيا تاسو غواړی په آلمان کې داسې ځای کې استوګن شی چیرته چې ستاسو هم ژبې کسان ژوند کوي؟

- هو
- نه

15) که تاسو "هو" انتخاب کړی: کومې ژبې باید په پام کې ونیول شي؟ (تاسو کولی شی ډیرځوابونه په نښه کړی)

- عربي
- دري
- انګلیسي
- فارسي
- فرانسوي
- ګرجستاني
- ایتالیوي
- کردی
- مولدوا
- پښتو
- پورتګالي
- رومانیایی
- روسي
- سومالیایی
- هسپانیایی
- تیګرینیا
- ترکي
- نور:

شخصي معلومات

16) ستاسو جنسیت څه دی؟

- نرینه
- ښځینه
- متنوع

ستاسو د زیږون نیټه د سني ډلي لپاره کارول کیږي. له همدې کبله دقیق عمر د سمون په پرګرام کې نه ثبت کیږي.

17) تاسو کله زیږیدلی یاست؟ (ورځ، میاشت، کال)

| ورځ | | میاست | | کال | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | |

مهرباني وکړی دلته ووایاست چې د کوم هیواد پاسپورت لری. که تاسو پاسپورټ نلری یا نه پوهیږی چې ستاسو پاسپورټ د کوم هیواد دی، مهرباني وکړی بیا هم دلته ولیکی. دا اطلاعات ستاسو د ځای په ځای کیدلو مکان نه ټاکي.

18) پوښتنه: د کوم هیواد پاسپورت لری؟

| |
|---|
| |

د ژبې مهارتونه، د لوستلو او لیکلو وړتیا

مهرباني وکړی لومړنی ژبه چې تاسو زده کړی دلته ذکر کړی. تاسو کولی شی څو ژبې په نښه کړی. مهرباني وکړی یوازې هغه ژبې ولیکی چې تاسو په خوا زده کړي دي. مهرباني وکړی د "نورو ژبو" په برخه کې هغه ژبې چې تاسو وروسته زده کړي انتخاب کړی.

19) لومړی کومه ژبه مو زده کړه؟

- عربي
- دری
- انګلیسي
- فارسي
- فرانسوي
- ګرجستاني
- ایټالیوي
- کردی
- مولدوا
- پښتو
- پورتګالي
- رومانیایی
- روسي

- سومالیایی
- هسپانیایی
- تیګرینیا
- ترکي
- نور:

| |
|---|
| |

| |
|---|
| آیا تاسو په آلماني خبرې کولې شی؟ که هو، تاسو څومره ښه په آلماني ژبه خبرې کولی شی؟ مهرباني وکړی دې پوښتنې ته په صادقانه توګه ځواب ووآیاست، ځکه چې موږ غواړو تاسو ته داسې ځای پیدا کړو چې ستاسو لپاره د آلماني ژبې برابر پروګرام ولري. که تاسو د (0، A1،...) کچه نه پیژنی، مهرباني وکړی هغه کچه غوره کړی چې ستاسو د آلماني ژبې د کچې غوره استازيتوب کوي. |

20) پوښتنه: ستاسو د آلماني ژبې مهارت (د CEFR له مخې) په کومه کچه دی ؟

- زه په الماني خبرې نه شم کولای (0)
- مبتدي: زه کم الماني خبرې کولی شم. که سرې ورو او روښانه خبرې وکړي، زه کولی شم په ساده ډول ورسره خبرې وکړم. (A1)
- له مبتدي څخه پورته: زه کولی شم له نورو سره په ساده او نورمال حالت کې خبرې وکړم. دا د هغه شیانو په هکله دي چې زه پرې پوهیږم او د معلوماتو ساده او مستقیم تبادله پکې شامليږي. (A2)
- د ژبې پرمختللې کارول: زه په آلماني ژبه ښه خبرې کولی شم. دا پدې مانا ده چې زه کولی شم په ساده او همغږي توګه د هغو موضوعاتو په هکله چې زما لپاره آشنا دي او یا هم زما د علاقه وړ دي خبرې وکړم. (B1)
- د ژبې خپلواکه کارول: زه کولی شم په خپله خوښه او روانی خبرې وکړم. دا کار ماته له ډیرې هڅې پرته ممکن دی. (B2)
- د ژبې تخصصي مهارتونه: زه کولی شم چې ژبه په ټولنیز او مسلکي ژوند همدا راز په تدریس او زدکړه کې په مختلفو لارو په اغیزمنه توګه وکاروم. (C1)
- مورنی ژبی ته نژدی مهارت: زه په آلمانی ژبه په عالي توګه خبری کولی شم. زه کولی شم په خپله، ډیر روان او دقیق ډول خبرې وکړم، او حتی په سختو شرایطو کې، زه کولی شم په روښانه توګه د ژبې ظریف اړخونه ښه بیان کړم. (C2)

| |
|---|
| دلته تاسو کولی شی د نورو ژبو پوهې او مهارتونو ته هم اشاره وکړی. یوازې هغه ژبې چې دلته ذکر شوي د آلمان په کاري چاپیریال کې ځانګړې اهمیت لري. مګر تاسو کولی شی د نورو ژبو نومونه هم واخلی او بیا یې په نښه کړی. |

21) تاسو په کومو ژبو خبرې کوی؟

- هیڅ کوم
- عربي

- چینایی
- انګلیسي
- فرانسوی
- ایټالوی
- پولنډي
- پرتګالي
- روسي
- هسپانیایي
- ترکي
- یوه یا څو نورې ژبې:

| |
|---|
| |

| |
|---|
| مهرباني وکړی ووایاست آیا په هغه ژبه چې لومړی مو زده کړې آیا کولی شی ولیکلی او ولولی؟ منظور ستاسو د کورنی ژبې دی چې تاسو ورسره لوي شوی یاست. آیا دا ژبه هغه توري کاروي کوم چې په الماني ژبه کې کارول کیږي؟ نو مهرباني وکړی ووآیاست چې آیا تاسو کولی شی آلماني حروف ولولی او ولیکی. موږ غواړو پوه شو چې د ژبې د زدکړې کومه کچه ستاسو لپاره مناسب ده. |

22) آیا تاسو کولی شی په کومه ژبه چې لومړې مو زده کړې لیک او لوست وکړی؟

- هو
- نه

23) آیا تاسو کولی شی آلماني حروف (توري) ولولی او ولیکی؟

- هو
- نه

د استوګنې وضعیت

| |
|---|
| آیا تاسو غواړی په آلمان کې په خپل راتلونکي استوګنځي کې یوازې (تنها) یا د خپلې کورنی له غړو سره په ګډه ژوند وکړی؟ یا آیا تاسو اوسمهال په یوه کورنی کې د نورو خلکو سره ژوند کوی چې آلمان کې د خونديتوب په لټه کې دي؟ په داسي کورونو کې چې د نورو خلکو سره شریک دي، نور کسان کولی شي تاسو سره په ورځني کارونو کې مرسته وکړي.<br>موږ غواړو تاسو په داسي ځای کې ژوند وکړی چې ستاسو لپاره مناسب وي.<br>موږ به هڅه وکړو چې ستاسو غوښتنې پوره کړو. مګر له بده مرغه، هیڅ تضمین نشته چې تاسو به په هغه کور کې ژوند وکړی چې تاسو یې غواړی. تاسو به لومړی په هغه کور کې ژوند کوی چې د نورو خلکو سره شریک وي ځکه چې کافي خالي اپارتمانونه شتون نلري. |

هغه اپارتمان یا کور چې تاسو یې له نورو سره شریکوی ممکن ستاسو د اوسنی کور څخه کوچنی وي او توپیر ولري.

24) آیا تاسو غواړی چې یوازې یا د خپلې کورنی سره په یو اپارتمان یا کور کې ژوند وکړی؟ یا تاسو غواړی د هغو خلکو سره ژوند وکړی چې تاسو یې لا نه پیژنی؟

- په خپل اپارتمان کې یوازې
- په یو ګډ کور کې، چیرې چې نور کسان هم په آلمان کې د خوندیتوب په لټه کې دي.

آیا تاسو غواړی چې طبیعت ته نږدې ژوند وکړی؟ طبیعت د دې معنی لري چیرې چې شنې سیمې او ځنګل ته لنډ وي. شاید تاسو لاهم هلته یوازې یا د نورو خلکو سره بڼ یا باغ ولری. همدا راز تاسو کولی شی ورزش وکړی یا طبیعت ته نږدې قدم ووهی.

25) آیا تاسو غواړی چې طبیعت ته لنډ ژوند وکړی؟
- هو
- نه

26) آیا تاسو غواړی په آرام چاپیریال کې ژوند وکړی؟
- هو
- نه

**دنده/کار**

مهرباني وکړی ووایاست چې تاسو تر اوسه په کومه برخه یا برخو کې کار کړی دی. تاسو کولی شی دا هم ذکر کړی چې په کومو برخو کې غواړی کار وکړی.

27) تر اوسه مو په کومه برخه کې کار کړی دی؟

- ما تر اوسه کار نه دی کړی.
- ما په داسې برخه کې کار کړی دی، چیرې چې خام مواد ورڅخه تر لاسه کیږي. د مثال په توګه، بزګران، ځنګلداران یا کب نیوونکي په دغه برخه کې کار کوي.
- ما د صنعت په برخه کې چې خام مواد پروسس کوي کار کړی. د مثال په توګه، په فابریکه کې د کارګر په توګه یا د یو کسبګر (فنکار) په توګه.
- ما په یوه داسې برخه کې کار کړی چیرې چې نورو خلکو ته خدمات وړاندې کیږي. د مثال په توګه د پلورونکي ( دوکاندار) په توګه، د ډاکټر په توګه یا د بس چلوونکي په توګه

28) غواړی په راتلوکي کې په کومه برخه کې کار وکړی؟

- زه غواړم په داسې برخه کې کار وکړم چې خام مواد ورڅخه تر لاسه کیږي. د مثال په توګه، بزګران، ځنګلداران یا هم کب نیوونکی په دغه برخه کې کار کوي.
- زه غواړم په یوه داسې برخه کې کار وکړم چې خام مواد پروسس کوي. د مثال په توګه په فابریکه کې د کارګر په توګه یا د یوه کسبګر (فنکار) په توګه.
- زه غواړم په یوه داسې برخه کې کار وکړم چیرې چې نورو خلکو ته خدمات وړاندې کوي. د مثال په توګه، د پلورونکي، ډاکټر یا د بس چلوونکي په توګه.
- زه نه پوهیږم څه کار وکړم.

- زه نه غواړم یا نشم کولی (اوسمهال) کار وکړم.

29) آیا تاسو د موټر(ګادي) چلولو اجازه لرئ؟ او آیا په آلمان کې له آزمویني پرته د دې جواز (لیسنس) سره موټر چلول ممکن دي؟ که تاسو د لاندې لیست شوي هیوادنو څخه د موټر چلولو جواز لرئ، تاسو په آلمان کې کولی شی موټر وچلوي.

- هو (زه د لاندې لیست شوي هیواد څخه د موټر چلولو جواز لرم)
- نه (زه د موټر چلولو اجازه نه لرم او زه د هغه هیواد څخه د موټر چلولو جواز لرم چې لاندې لیست شوي ندي)

- مریلند
- ماساچوست
- میشیگان
- مینه سوتا
- می سی سی پی
- میسوری
- نبراسکا
- نیومکزیکو
- کارولینای شمالی
- اوهایو
- اوکلاهما
- اورگان
- پنسیلوانیا
- پورتوریکو
- جنوبی کارولینا
- جنوبی داکوتا
- تنسی
- تگزاس
- یوتا
- ویرجینیا
- د واشنگتن ایالت
- غربی ویرجینیا
- ویسکانسین
- وایومینگ
- د کاناد ایالات:
- آلبرتا
- بریتیش کلمبیا
- مانیتوبا
- نیوبرانزویک
- نیوفاندلند

**شمال غربي هیوادونه:**

- نوا اسکوشیا
- انتاریو
- د پرنس جزیره ادوارد
- کبک
- ساسکاچوان
- یوکان

- صربستان
- سنگاپور
- اسلواکی
- اسلونی
- اسپانیا
- آفریقای جنوبی
- جمهوری چک
- مجارستان
- قبرس
- هغه جوازونه چې د تایوان په اوسني قضایی حوزه کې صادر شوي
- انګلستان او د کانال جزیرې

**د استرالیا قلمرو او خمکي**

- قلمرو پایتخت استرالیا
- NSW
- سرزمین های شمالی
- کوئینزلند
- استرالیای جنوبی
- تاسمانی
- ویکتوریا
- استرالیای غربی

**د متحده ایالاتو قلمرو او ایالتونه:**

- آلاباما
- آریزونا
- آرکانزاس
- کلرادو
- کانکتیکات
- دلاور
- د کلمبیا منطقه
- فلوریدا
- آیداهو
- ایلینوی
- ایندیانا
- آیووا
- کانزاس
- کنتاکی
- لوئیزیانا

- البانیا
- آندورا
- بلژیک
- بوسنی او هرزگوین
- بلغارستان
- دانمارک
- آلمان
- استونی
- فنلاند
- فرانسه
- پلینزی فرانسه
- جبل الطارق
- یونان
- ایرلند
- ایسلند
- اسرائیل
- ایتالیا
- ژاپن
- کوزوو
- کرواسی
- لتونی
- لیختن اشتاین
- لیتوانی
- لوکزامبورگ
- مولداوی
- موناکو
- نامیبیا
- نوی کالدونیای
- نیوزلند
- هالند
- ناروی
- اتریش
- پولند
- پرتګال
- د کوریا جمهوری
- شمالي مقدونیه
- رومانیا
- سن مارینو
- سویدن
- سوئیس

**تحصیلات او زدکړې**

| |
|---|
| څو کاله ښوونځي ته تللي یاست؟ ښوونځی په دې معنی نه ده چې دیني یا د قرآن زدکړی مو کړی وي. یوازې هغه بشپړ د مکتب تحصیلی کلونه ذکر کړی چې تاسو پکې برخه اخیستي ده. |

30) تاسو څو کاله ښوونځي ته تللي یاست؟

- زه هیڅکله ښوونځي ته نه یم تللی
- یو کال
- ۲ کاله
- ۳ کاله
- ۴ کاله
- ۵ کاله
- ۶ کاله
- ۷ کاله
- ۸ کاله
- ۹ کاله
- ۱۰ کاله
- ۱۱ کاله
- ۱۲ کلن یا ډیر

31) آیا تاسو له ښوونځي څخه فارغ شوي یاست؟

- زه د فراغت سند نلرم، یا هغه سند چې زه لرم له ۹ کلونو څخه کم دی.
- زه د ۹ کلونو څخه پورته سند لرم.
- زه د 10 کلونو څخه لوړ سند لرم.
- زه د 12 یا 13 ټولګي څخه لوړ د فراغت سند لرم.

| |
|---|
| معلومات: وروسته بیا تاسو له بلې اداري سره اړیکه نیسی ترڅو ستاسو تحصیلی اسناد ترجمه او چمتو کړی. سر بیره پر دې، د سمون په پروسه کې، موږ غواړو ډاډ تر لاسه کړو چې تاسو داسې ځای ته ستنیږی چې ستاستو د تعلیماتو له کچې سره ښه سمون ولري. |

| |
|---|
| دلته تاسو کولی شی یادونه وکړی چې آیا تاسو دمخه یو مسلک زده کړی یا نه. |

32) تاسو په کومه برخه یا مسلک کې زده کړې کړي دي؟

- ما مسلک نه دی زده کړی.
- ما داسې کار زده کړی چې په دغه برخه کې خام مواد تر لاسه کیږي. د مثال په توګه، بزګران، ځنګلداران یا کب نیونکی په دې برخه کې کار کوي.
- ما د خامو موادو د پروسس په صنعت کې زدکړې کړې دي. د مثال په توګه، په فابریکه کې د کارګر په توګه یا د کسبګر(فنکار)  په توګه.
- ما یو مسلک زده کړې چې په هغه کې ما نورو خلکو ته خدمتونه وړاندې کړی. د مثال په توګه د پلورونکي ( دوکاندار)، ډاکټر یا د بس چلوونکي په توګه.

33) پوښتنه: آیا تاسو خپلې زدکړې په پوهنتون کې بشپړې کړې؟

- نه
- هو، د لیسانس سند، ډیپلوم یا د هغه معادل، چې معمولا شاوخوا 3 کاله وخت نیسي
- هو، د ماسټرۍ تر کچې، ډیپلوم، د ماسټرۍ سند یا معادل. دا ټول لږترلږه 4 کاله وخت نیسي
- هو د دکترا تر کچې، دغه درجه وروسته د عادی پوهنتون له سند څخه ده

| |
|---|
| معلومات: د سند پیژندلو لپاره، تاسو اړتیا لری وروسته له بلې اداري سره اړیکه ونیسی. خو بیا هم موږ غواړو چې ستاستو استوګنځی ستاسو د پوهنتون له تحصیلاتو سره ښه سمون ولري. |

34) وروسته غواړی کوم  تحصیلي سند تر لاسه کړی؟
- هیڅ سند
- د ښوونځي څخه د فراغت سند
- دنده یا مسلک
- د پوهنتون سند

که تاسو غواړی مسلکي زده کړه وکړی:

35) پوښتنه: په کومه برخه کې غواړی چې مسلک زده کړی؟
- زه غواړم داسې یو مسلک زده کړم په کوم کې چې خام مواد تر لاسه کیږي. مثلا بزګران، ځنګل بانان یا کب نیونکي په دې برخه کې کار کوي.
- زه غواړم د خامو موادو د پروسس د صنعت برخه کې مسلک زده کړم. مثلا په یوه فابریکه کې د کارګر یا د یو کسبګر (فنکار) په توګه.
- زه غواړم یوداسې مسلک زده کړم چې په هغه کې نورو خلکو ته خدمات وړاندې کړم. مثلا د پلورونکي، ډاکټر یا بس چلوونکي په توګه

**د فراغت وخت، سپورت او کلتور**

| |
|---|
| دلته تاسو کولی شی ووآیاست چې تاسو په خپل نوي استوګنځي کې د کوم سپورت ترسه کول غواړی. تاسو کولی شی مختلف موارد په نښه کړی. |

36) تاسو په خپل نوي استوګنځي کې غواړی کوم سپورت (ورزش) ترسره کړی؟

- زه نه غواړم چې سپورت ته لنډتوب (نیرډیوالی) تعیین کړي چې زه باید چیرته استوګن شم
- اکروباټیکس / جمناسټیک
- بیلټ / نڅا
- له کور څخه بهر د بال لوبې: فوټبال / امریکایی فوټبال / بیسبال / باسکیټبال / د ساحل والیبال
- د سالون د ننه د بال لوبې: هینډبال / باسکیټبال / والیبال
- د معلولینو ځانګړی سپورت
- غرنی سپورت / قدم وهل / ختل
- بوکا، باولیس، باولینګ، سکیټلیس
- د یخ په سر لوبی
- فیلډ هاکي
- د بدن جوړوني کلب
- رزمی لوبی
- منډې وهل
- بایسکل چلول
- د بیا رغوني سپورټ (له ناروغی څخه وروسته)
- آس ځغلونه
- د تیر او کمان سپورټ
- لامبو کول / د اوبو سپورټونه
- د لویانو لپاره سپورټ (60 کلن)
- سکواش / ټینس / پیکنپانګ
- ژمني سپورټونه
- یوګا / پیلاتس / چیګونګ

مهرباني وکړی ذکر کړی چې خپل نوي استوګنځي ته لنډ خپل فراغت وخت کې کوم کارونه غواړی ترسره کړی.
زموږ منظور هغه فعالیتونه دي چې تاسو د کار نکولو په وخت کې ترسره کوي. تاسو کولی شی څو ټکی په نښه کړی.

37) تاسو په خپل فارغ وخت کې غواړی څه ترسره کړی؟ ستاسو څه خوښیږي؟
- دا ماته مهمه نه ده. نه غواړم چې تفریحی فعالیت ته نږدې والی تعیین کړي چې زه باید چیرته استوګن شم.

**کلتور**

- تیاتر
- لوی کنسرتونه
- کتابتون / عامه کتابتون
- نمایشګاه/لوری هنري موزیمونه
- سینما

**طبيعت/حيوانات**

- ژوبڼ/حيواناتو پارک
- عامه پارک چیرې چې تاسو کولی شی قدم ووهی او کښینئ
- طبیعت (ځنګل، شنه چمنونه، او نور)

**خلاقیت**

- په تیاتر کې لوبې
- د لاسي صنایعو ځای یا DIY د سرګرمی لپاره
- د نقاشی او طراحۍ ځایونه
- د موزیک جوړولو ځایونه یا ډلې

**نور شیان**

- د پیرودلو مرکزونه او یا دقدم وهلو لپاره ځایونه
- کافي شاپونه یا رستورانتونه

38) آیا غواړی چې خپل اوزګار (بیکاری) وخت کې خپل نوي استوګنځي کې په لاندې ذکر شویو برخو کې مرسته وکړی؟

- نه، زه نه غواړم په خپل فارغ وخت کې له کوم ځای سره مرسته وکړم
- هو، زه غواړم د نورو خلکو یا ډلو سره مرسته وکړی
- زه غواړم له سیاسي لحاظه برخه واخلم
- زه غواړم په یوه مذهبي ډله کې مرسته وکړم
- زه غواړم له یو سپورتي کلب سره مرسته وکړم

**د *LGBTIQ ټولنه او ملاتړ**

| |
|---|
| د 'LGBTIQ*' مخفف د هغو کسانو لپاره کارول کیږي چې خپل ځانونه لیسبین، همجنسباز، نربنځی، ټرانس*، انتر* په توګه معرفي کوي.<br>آیا ستاسو لپاره دا مهمه ده چې ستاسو کور ته لنډ د LGBTIQ* ټولنه موجوده وي؟ تاسو د دغو پوښتنو ځواب ورکولو ته اړ نه یاست.<br>دا ډول ټولنه د هغو خلکو سره مرسته کوي چې احساس کوي دوی د LGBTIQ * اصطلاح سره تړاو لري. هلته تاسو کولی شی په ښکاره ډول د نورو خلکو سره خبرې وکړی، کوم کسان چې فکر کوي تاسو له هغوي سره تړاو لری. |

39) آیا ستاسو لپاره دا مهمه ده چې ستاسو کور ته لنډ د LGBTIQ* ټولنه یا خلک موجود وي؟

- هو
- نه
- زه نه پوهیږم

| |
|---|
| آیا تاسو غواړی چې خپل کور ته لنډ د LGBTIQ* د ملاتړ مرکز ولری؟ آیا دغه نیږدېوالی باید وټاکي چې تاسو چیرته استونګن شی؟ تاسو د دې پوښتنو ځواب ته اړ نه یاست. |

يو داسي مرکز يا مشترک کور د هغه کسانو لپاره چې خپل ځان LGBTIQ پورې متعلق ګڼي کولی شي ستاسو لپاره موثر واقع شي او ستاسو پوښتنو ته ځواب درکړي.

40) آيا ستاسو لپاره مهمه ده چې تاسو کورته ته لنډ د LGBTIQ د حمايت او مشاورې مرکز شتون ولري؟
- هو
- نه
- زه نه پوهيږم

**روغتيا**

که تاسو اميدواره (حامله) ياست، تاسو کولی شی دلته ذکر کړی. موږ غواړو ډاډ ترلاسه کړو چې هغه اسانتياوې چې ستاسو لپاره مهمې دي ستاسو نوي استوګنځي ته لنډ وي. دا، د بيلګې په توګه ډاکټران يا نسايي متخصصين دي. اما حتمي نده چی بايد وواياست تاسي حمل لري.

41) آيا تاسو اوس اميدواره (حامله) ياست؟
- هو
- نه
- زه نه پوهيږم

موږ غواړو پوه شو چې آيا تاسي کوم ځانګړي ډاکتر ته په خپل نوي استوګنځي کې اړتيا لری او که نه.

42) آيا تاسو داسې روغتيايي ستونزې لری چې ډيری وختونه ځانګړي ډاکتر ته بايد مراجعه وکړی؟
- هو
- نه

که تاسو "هو" انتخاب کړی:

43) لطفا وواياست چې تاسو کومه روغتيايي ستونزه لری. آيا تاسو پوهيږی چې کوم ډول ډاکتر ته اړتيا لری؟ د مثال په توګه، که تاسو د پوست ستونزه لری، تاسو کولی شی وواياست چې تاسو بايد د پوستکي متخصص ته مراجعه وکړی.

**طبي متخصصين**

- کورنی ډاکتر/عمومي ډاکتر
- جراح/اورتوپيد
- د ښځو ډاکتر (يادونه: دغه برخه يواځې هغه وخت په نښه کړی چې تاسو کومه صحي ستونزه لری، نه يواځې د دې لپاره چې تاسو يوه ښځه ياست.)
- د پوستکي متخصص
- د غوږونو، پزی او ستونې ډاکتر
- د اعصابو ډاکتر

- یورولوژیست
- روانشناس/ ارواهپوه (رواني ستونزې بی له کومې دوایې یا درمل اړتیا)
- طبی ارواهپوه (د هغه رواني اړتیاو لپاره چې درمل ورته اړین پیژندل شوی، لکه د اعصابو درمل)

**روغتونونه**

- روغتون (که تاسو روغتون ته د تګ لپاره، اړتیا لری، دا په نښه کړی)
- نور ډاکټران ( دلته تاسو کولی شی د روغتیایی ستونزو لپاره هغه ډاکټران په نښه کړی چې تاسو پخوا ندی په نښه کړی. دغه معلومات تاسو ته د مناسب ځای موندلو لپاره مرسته کوي):

| |
|---|
| |

| |
|---|
| لاندې پوښتنې تاسو ته دغه امکان در کوي چې وویاست آیا معلولیت لری تر څو د هغه لپاره کمک تر لاسه کړی او کنه. |
| موږ غواړو چې ستاسو د معلولیت سره په خپل نوي استوګنځي کې مرسته وشي. |
| ستاسو ځواب به موږ سره مرسته وکړي چې ستاسو لپاره د اوسیدلو مناسب ځای پیدا کړو. |
| تاسې کولی شی د لاندې پوښتنو لپاره یوازې یو ځواب په نښه کړی. |

44) آیا تاسو حتی د عینکو سره هم سم نشی لیدلی؟

- زه په سمه توګه لیدلی شم
- زه ښه لیدلی شم، مګر په بشپړه توګه نه
- زه یوازې بد وینم
- زه هیڅ نه شم لیدلی (زه ړوند یم)
- زه نه غواړم ځواب ورکړم

45) آیا تاسو حتی د اوریدونکې وسیلې سره هم سم نشی آوریدلی؟

- زه په بشپړ ډول اوریدلی شم
- زه ښه اوریدلی شم، مګر په بشپړ ډول نه
- زه یوازې بد اوریدلی شم
- زه هیڅ نه اورم ( زه کوڼ یم)
- زه نه غواړم ځواب ورکړم

46) آیا تاسو د تګ یا پورته کیدلو وخت کې ستونزې لری؟

- زه کولی شم په ښه توګه وګرځم او زینو کی پورته شم
- زه نشم کولی په ښه توګه له زینو پورته شم
- زه په قدم وهلو یا د زینو پورته کولو کې ستونزې لرم
- زه په هیڅ ډول تګ نشم کولی (زه په ویلچیر کې یم)
- زه نه غواړم ځواب ورکړم

47) آیا تاسو په یادولو یا تمرکز کولو کې ستونزه لری؟

- زه کولی شم شیان ښه په یاد کې ولرم او تمرکز وکړم
- زه کولی شم دغه کار په ښه توګه ترسره کړم، مګر په بشپړ ډول نه

- زه د شیانو په تمرکز یا یادولو کې ډېرې ستونزې لرم
- زه نشم کولی په شیانو تمرکز وکړم یا یې په یاد ولرم
- زه نه غواړم ځواب ورکړم

48) آیا تاسو د غسل یا حمام کولو او یا هم د جامو آغوستلو سره ستونزه لری؟

- زه هیڅ کومه ستونزه نلرم
- زه یوازې څو وړوکې ستونزی لرم
- زه دا کارسم نشم ترسره کولی
- زه دا کار هیڅ نشم کولی
- زه نه غواړم ځواب ورکړم

49) آیا تاسو په کومه ژبه چې لمړی مو زدکړی، د خلکو د خبرو پوهیدلو کې ستونزه لری؟ آیا نور کسان په کومه ژبه چې لمړی مو زده کړی د خبرو په ترڅ کې تاسو سره ستونزه لري؟

- هیڅ کومه ستونزه نلرم
- ځیني وړې ستونزې لرم
- لویه ستونزه لرم
- زه نه پوهیږم چې نور خلک څه وایي یا نور نه پوهیږي چې زه څه وایم
- زه نه غواړم ځواب ورکړم

| |
|---|
| بله پوښتنه ستاسو د روغتیا په اړه ده. موږ غواړو چې پوه شو آیا تاسو کومه ځانګړې روغتیایی ستونزه لری او کنه؟ آیا موږ د دغه ستونزې په حل کې له تاسو سره مرسته کولی شو؟<br>له همدې کبله، کوم ځوابونه چې تاسې ورکوي، ستاسو لپاره کومې ناوړې پایلې ونلري. نو هیله کیږي چې په آزاده او طبیعي توګه ځواب ورکړی.<br>پوښتنه په ځانګړې توګه د تیرو دوو اونیو په اړه ده. |

50) آیا تاسو له دغه لاندې ستونزو څخه لری؟ مهرباني وکړی یوازې د تیرو دوه اونیو په هکله ځواب ورکړی. تاسو کولی شی څو ځوابونه په نښه کړی:

- زه ډیر کله د ویده کیدلو (خوب) په وخت کې ستونزه لرم
- زه ډیر کله بد خوبونه وینم. دغه خوبونه ډارونکي دي
- زه پرله پسې سر درد لرم
- زه اکثرا نور فزیکي دردونه لرم
- زه په آسانی غوسه کیږم
- ډیری وختونه هغه شیبې را یادیږي چې زما د روحي درد لامل ګرځي
- زه ډیری وختونه ویره لرم
- زه ډیری وختونه په خپل ورځني ژوند کې شیان هیروم
- ما د شاوخوا شیانو او خلکو سره علاقه د لاسه ورکړې ده
- زه ډیری وخت په تمرکز کولو کې ستونزه لرم

وزن

| |
|---|
| دلته تاسو کولی شی وواياست چې کوم ځواب ستاسو د نوي استوګنځي لپاره خورا مهم دی. موږ ځوابونه په مختلفو برخو کې طبقه بندي کړي دي. تاسو کولی شی یو غوره کړی. |

51) د لاندې برخو څخه کومه برخه ستاسو لپاره ځانګړې اهمیت لري؟ مهرباني وکړی یوازې یوه برخه غوره کړی.

- ټولنیزې اړیکې (ملګري او کورنۍ)
- کور
- کار
- زدکړه
- روغتیا
- د فراغت (اوزګار) وخت
- مشوره او مرسته

ستاسو له ګډون څخه مننه. تاسو کولی شی د لاندې برخې سره اړیکه ونیسی او د دې پوښتنلیک د پوښتنو ډکولو کې مرسته ترلاسه کړی. همدا راز تاسو کولی شی د ټولو پوښتنو له ځوابولو څخه وروسته پوښتنلیک هلته وسپاری. دغه برخه ستاسې ځوابونه د سمون کمپیوټري پروګرام ته ورکوي تر څو تاسو ته یو مناسب استوګنځي ولټوي.

[د ثبت ځانګه]

Dieser Fragebogen wurde in deutscher (DOI 10.25528/190) und englischer (DOI 10.25528/191) Sprache unter CC BY-NC-SA-Lizenz veröffentlicht. Für die Nutzung dieser Übersetzung gelten die Lizenzvorgaben entsprechend.

This questionnaire has been published in German (DOI 10.25528/190) and English (DOI 10.25528/191) under CC BY-NC-SA licence. The licence conditions apply accordingly to the use of this translation.